# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې نهمه | د ۲۰۱۹ د جنوري ۲۹مه | دویم کال| ۳۲٦مه گڼه


## ولسمشر غني: د سولې په برخه کې د داوود خان او ډاکټر نجیب الله تېروتنې نه تکراروو



۳

رښتیا هم د سولې هڅې د حکومت تر چتر لاندې دي؟

۲ مخ

«یو کمربند او یوه لار» د افغانستان سوله او پرمختګ هڅوي

۲ مخ

څنګه له حاسدو کسانو د خپلې بریا لپاره استفاده وکړو؟

۵ مخ

## د عدالت غوښتنې ګروپ: په ۲۰۱۸ ز کال کې ۲٦۱۵ ملکیان وژل شوي دي

د ملکي وګړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ګروپ ویلي، په تېر ۲۰۱۸ ز کال کې ٦٦۸۷ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې، چې له دې شمېرې ۲٦۱۵ تنه یې وژل شوي او ۴۰۷۲ نور ټپیان دي.

د دغه ګروپ مشر عزیز احمد تسل تېره ورځ په کابل کې خبریالانو ته ویلي، د دوی له ګروپ سره ثبت شوي معلومات ښیي چې له یادې شمېرې ۴۹ سلنه مرګ ژوبله د دولت ضد ډلو «طالبانو او داعش» په بریدونو کې اوښتې ده.

نوموړي دغه راز ویلي چې ۲۷ سلنه نوره مرګ ژوبله بیا په حکومتي ځواکونو پورې اړه لري، چې په دې کې یې ٦ سلنه د هوایي او شپنیو عملیاتو په ترځ کې رامنځته شوې ده.

د تسل په خبره، ۲۲ سلنه نوره مرګ ژوبله بیا د راکټي بریدونو، هاوان او هدفي وژنو له امله اوښتې ده. نوموړي زیاته کړې: «افغان حکومت، داعش او طالبانو چې د افغانستان په جګړه کې شامل دي، دغه مرګ ژوبله رامنځته کړې ده».

هغه زیاته کړې چې تېر کال تر ټولو ډېره مرګ ژوبله په کابل، ننګرهار، هلمند او غزني کې رامنځته شوې ده. د دغه ګروپ په خبره، په همدغه کال کې د حکومتي ځواکونو له خوا د دوی د مخالفینو پر وړاندې په ترسره شوو شپنیو عملیاتو کې ۲٦۵ ملکیان وژل شوي دي.

دغه ګروپ چې له شلو مدني ټولنو څخه جوړ شوی، ویلي چې په ۲۰۱۸ ز کال کې ۴۰ داسې ځانمرګي بریدونه شوي چې په پایله کې یې ۷۴۴ ملکي وګړي وژل شوي دي، چې داعش ډله او وسله وال طالبان پکې پړه ګڼل کېږي.

## له افغانستانه د سرتېرو ایستلو ته ژمن یو



۵ مخ


ځیره

۴ مخ


## الیف شافاک



د الیف شافاک د (تور زمري) په نوم کتاب چې په لومړي ځل په ۲۰۱۰ ز کال کې چاپ شو، له څلورو- پنځو ورځو وروسته ټول وپلورل شو او د نوموړې د شهکار اثر نوم یې خپل کړ.

## په ۱٦ ولایتونو کې ۴۰۰ ممیز خونې ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي



د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت وایي، روان لمریز کال د ټول هېواد په کچه په ۱٦ ولایتونو کې د ۴۰۰ ممیز خونو د جوړولو کار بشپړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.

د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي پرون له ازادي راډیو سره په خبرو کې ویلي، چې له دغو ممیز خونو هره یوه یې د ۱۰ مټریک ټنو ممیزو د وچولو ظرفیت لري چې په دې سره به د ممیزو تولیدات زیات او د بازار تقاضا به پوره شي.

د نوموړي په خبره، په تېرو پنځو کلونو کې د ټول هېواد په کچه ۲۱۰۰ ممیز خونې جوړې شوې دي چې د حاصلاتو د زیاتوالي او د خرابېدو د مخنیوي ترڅنګ یې، په زرګونو خلکو ته د کاروبار ښه زمینه هم برابره کړې ده.

## نی: آزادی بیان و دستاوردهای رسانه ها نباید قربانی گفت‌وگوهای صلح شود



در حالیکه موسسه «نی» از مذاکرات صلح استقبال می کند؛ اما با نگرانی می گوید که نتایج این فرایند، نباید سبب وضع محدودیت فعالیت رسانه ها، تعلیق یا حذف بخش هایی از حق آزادی بیان در کشور گردد.

مجیب خلوتگر رئیس اجرایی موسسه حمایت کننده رسانه های آزاد افغانستان (نی)، دیروز در یک نشست خبری در کابل گفت، با آن که صلح خواست و آرزوی مردم افغانستان است و جهت دسترسی به آن، از سال ها به این سو قربانی می دهند؛ اما نگرانی هایی نیز در زمینه نادیده گرفته شدن ارزش ها و حقوق شهروندی در فرایند گفت‌وگوهای صلح وجود دارد.

موصوف افزود: «از چندین سال به این سو تلاش ها برای تأمین صلح در کشور از سوی حکومت و جامعه بین المللی جریان دارد؛ اما متأسفانه تا امروز ما شاهد به نتیجه رسیدن این خواسته ها و تلاش ها نبوده ایم.»

وی تصریح نمود که «نی» نگران آیندهٔ حق آزادی بیان و حقوق رسانه های مستقل موجود است و هیچ فرایندی، نباید منجر به محدود شدن فعالیت رسانه های آزاد شود و بزرگترین دستاورد ۱۷ سال اخیر در کشور را از هم فرو بپاشد.

به گفته او، نی نگران است که مبادا پیشامد نتایج گفت‌وگوهای صلح، وضع محدودیت، تعلیق و یا حذف بخش هایی از حق آزادی بیان باشد.


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019

Shigal

ENGLISH ACADEMY

ADMISSION OPEN

Dehbori, Second street behind Dehbori Park, 3rd district, Kabul, Afghanistan.

0784189282

## دریځ

### رښتیا هم د سولې هڅې د حکومت تر چتر لاندې دي؟

ولسمشر غني پرون د سولې په تړاو په خپلو څرګندونو کې ویلي چې د سولې په برخه کې د امریکا د متحده ایالتونو کوښښونه زموږ د سولې د برنامې یوه برخه ده چې مالکیت یې د افغانستان د اسلامي جمهوریت تر چتر لاندې دی. نوموړي دغه راز ادعا کړې چې ګواکې د ځینو هېوادونو په اړه د دوی د انزوا طرحې نتیجه ورکړې او پایله یې اوسنۍ روانې خبرې دي. ولسمشر ویلي: «موږ د ځینو هېوادونو د انزوا او د ځینو هېوادونو د مرستو جلبولو طرحه د تېر کال په حمل کې د امریکا دولت ته وړاندې کړه. د دې طرحې مثبت نتایج موږ نن هره ورځ ګورو».

د ولسمشر له خبرو دوه مسایل ښکاري، لومړی دا چې لا هم د سولې د روانو هڅو په تړاو خلکو ته ناسم معلومات ورکوي او بل دا چې غواړي خلکو ته د سولې په روانو هڅو د کاذبانه تسلط تصویر وړاندې کړي. ټول پوهېږي چې د سولې روانه پروسه د امریکا او طالبانو ترمنځ ده. په دې چاره کې پاکستان هم پوره ښکېل دی او ان سعودي او امارات هم په یوه برخه کې ور ګډ شول، خو لا هم افغانستان پکې نه دی ګډ شوی. د سولې په تړاو ښکاري چې د امریکا او پاکستان معامله هم روانه ده. نو په دې خبرو کې یوازې افغان حکومت منزوي شوی دی. اوس ولسمشر د دې پر ځای چې خلکو ته رښتیا ووایي او ښکاره کړي چې په دغو خبرو کې افغان دولت منزوي شوی دی، هڅه کوي چې خپل کاذبانه تسلط وښیي. کله چې یو څوک د پروسې برخه نه وي او د پروسې د برخې کېدو لپاره یې هڅې بیا بیا ناکامېږي، نو څنګه ادعا کولی شي چې هر څه زموږ تر کنټرول لاندې دي!؟ تر دې خندوونکې او حیرانوونکې خو یې لا دا ده چې ولسمشر د امریکا هڅې هم د خپل پروګرام برخه ګڼي او وایي: «د سولې په برخه کې د امریکا د متحدو ایالاتو کوښښونه زموږ د سولې د برنامې یوه برخه ده». ګواکې خلیلزاد هم د امریکا نه، بلکې د افغان حکومت مامور دی.

ولسمشر بیا د پاکستان په اړه ناسم تصویر وړاندې کوي، وایي چې ګواکې امریکا د پاکستان د منزوي کېدو په اړه د افغان دولت طرحه عملي کوي. د دې مانا دا ده چې د افغانستان حکومت تر امریکا پیاوړی دی او ښه طرحه جوړولی شي. امریکا خپله طرحه نه لري او د افغانستان د حکومت طرحه عملي کوي. خو ولسمشر په خپلو سترګو کې خاورې شیندي او هېروي چې پاکستان د معاملې برخه دی او امتیاز اخلي. همدا اوس یې په دې تړاو درې میلیارده ډالره له اماراتو، شپږ میلیارده له سعودي او ان له امریکا هم پیسې ترلاسه کوي. که دېته انزوا ویل کېږي، دا نو بیا پکار ده چې په قاموسونو کې د انزوا مانا بدله شي.

ولسمشر ته پکار ده چې د ناسمو او هوایي خبرو پر ځای ولس ته رښتیني معلومات ورکړي، څو د سترو زیانونو مخه ونیول شي. رښتیا دا دي چې د سولې پروسه د حکومت له کنټرول څخه بهر ده، امریکا یا ونه غوښتل او یا یې ونه شو کولی چې طالبان له حکومت سره خبرو ته کېنوي. رښتیا دا دي چې د پاکستان او امریکا ترمنځ معامله روانه ده. رښتیا دا دي چې د سولې په پروسه کې تر نورو ټولو اړخونو افغان حکومت منزوي او بې خبره دی. که ولسمشر خلکو ته رښتیني معلومات ورکړي، نو خلک بیا حالت بدلولی شي، د ناوړه معاملو مخه نیولی شي او د سولې هڅې رښتیني مسیر ته برابرولی شي.

# «یو کمربند او یوه لار»

## د افغانستان سوله او پرمختګ هڅوي



لیکنه: په افغانستان کې د چین لوی سفیر لیو جین سونګ

په دې وروستیو کې د افغانستان فکري ارګان DROPS یعنې د تګلارو تحلیل او پرمختیا څېړنې ارګان بنسټ ایښودونکې او اجرایه رییسې ډاکټرې مریم صافۍ تر دې عنوان لاندې یو څېړنیز راپور خپور کړ، چې افغانستان د یو کمربند او یوې لارې په وړاندیز کې ګډون کوي. یاد راپور په سیستماټیکه توګه د یو کمربند او یوې لارې وړاندیز د څېړنې په هکله د افغانستان د کارپوهانو لخوا لیکل شوی لومړی راپور دی. زه او زما همکاران په دې نظر یو چې د دغه راپور په برخه کې اغلې صافۍ زیات کارونه تر سره کړي، په خپله یې فکر کړی، ژورې پلټنې او څېړنې یې کړې او هر اړخیز شواهد یې پیدا کړي دي. نوموړې په دې برخه کې د افغانستان د څېړنې تشه ډکه کړې او په راتلونکې کې د اړوندو څېړنو لپاره یې لاره هواره کړې ده.

ډاکټرې صافۍ د یاد راپور په خپرېدونکو مراسمو کې وویل چې د افغانستان بېلابېلې ټولنې د یو کمربند او یوې لارې په پلان کې د ګډون له فرصت څخه مننه کوي، چې دغه پلان په افغانستان کې د امنیتي حالاتو له ترینګلتیا سره سره، افغانستان ته قوت ورکړی او ور کوي یې. د یو کمربند او یوې لارې وړاندیز د افغانستان له ګټو سره سمون لري، په دغه هېواد کې د پټ توان د پیدا کولو لپاره ګټور دی چې د اسیا زړه، د اروپا او اسیا د تقاطع او د ورېښمو د لرغونې لارې د سوداګریز مرکز په توګه بیا سمسورتیا رامنځته کولی شي.

زه د مریم صافۍ له یادو خبرو سره همغږی یم. د یو کمربند او یوې لارې وړاندیز د چین صمیمیت او صداقت څرګندوي. په چینایي او افغاني ژبو کې دا اصطلاح شته چې پر یو ګل نه پسرلی کېږي. چین هیله لري چې د یو کمربند او یوې لارې په نوم د اقتصاد د سیمه ییزو همکاریو د وړاندیز له مخې ټولې نړۍ ته د بنسټیزو تاسیساتو د جوړولو او د تګ راتګ عامه خدمتونه برابرکړي، له ګاونډیو هېوادونو سره د چین پرمختیایي لاسته راوړنې شریکې کړي او چین به د لوی هېواد په توګه چیني ځانګړتیا لرونکې ډیپلوماتیکې چارې عملي کړي.

«یو کمربند او یوه لار» د ورېښمو لرغونې لارې را ژوندي کول دي او افغانستان د ورېښمو لرغونې لارې رڼه ملغلره وه او د ورېښمو لرغونې لارې د ابادۍ او د چیني کولتور د پرمختیا لپاره یې مهم خدمتونه تر سره کړي دي. یو کمربند او یوه لاره به افغانانو ته د سولې هیله پیدا او د پرمختګ څرک به ولګوي.

«یو کمربند او یوه لار» په نړۍ کې د خلکو د ژوند د ښه والي په اړه تر ټولو لویه پروژه ده. د یو کمربند او یوې لارې مرکزي هدف ګډ پرمختګونه دي چې ټول به ترې ګټه پورته کړي او ښه ژوند به ولري. د دغه وړاندیز د وړاندې کېدو له پنځو کلونو څخه راپدېخوا د چین او د یو کمربند او یوې لارې په اوږدو کې د اړوندو هېوادونو تر منځ، د سوداګرۍ حجم له ۵ زرو میلیاردو امریکایي ډالرو څخه اوښتی، چې هر کال د زیاتوالي منځنۍ اندازه یې یو اعشاریه یو سلنه ده او دا د نړیوالې سوداګرۍ د کمزورتیا په حال کې رامنځته شوی دی. له پنځو کلونو راهیسې د یو کمربند او یوې لارې پر غاړه پرتو هېوادونو کې د چین د مستقیمو پانګونو اندازه، له ۷۰ میلیاردو امریکایي ډالرو څخه اوښتې ده چې هر کال ۷ اعشاریه ۲سلنه زیاته شوې ده. چین په ټوله نړۍ کې ۸۲ اقتصادي او سوداګریزې-همکاریزې سیمې جوړې کړې دي او کوربه هېوادونو ته یې څه دپاسه دوو میلیاردو امریکایي ډالرو په اندازه مالیات ورکړي او څه دپاسه دوو لکو کسانو لپاره یې د کار زمینه برابره کړې ده. د یو کمربند او یوې لارې په پلان کې د برخوالو هېوادونو شمېر نور هم زیاتېږي، تر اوسه څه دپاسه سلو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو له چین سره شاوخوا ۱۲۰ همکاریز تړونونه لاسلیک کړي دي.

د یو کمربند او یوې لارې وړاندیز د انسانانو د ګډ برخلیک ټولنې او د نوي شکل د نړیوالو اړیکو له جوړونې سره ټینګې اړیکې لري. په دغه وړاندیز کې ځمکنۍ او سمندري لارې دواړې شاملې دي، مامورین او خلک دواړه پکې برخمن دي، د ګډو بحثونو، ګډې ابادۍ او د ګډو ګټو اصولو او د لوړ کیفیت، معیار او سویې پر نظریو ټینګار شوی، د تګلارو تګ راتګ، د اساسي تاسیساتو د تړلو، د سوداګرۍ د پیاوړتیا، د پیسو د تبادلې او د خلکو د زړونو د نژدې کولو په شمول د پنځو برخو هڅونه کېږي. دغه راز په لومړي وخت کې د بنسټیزو تاسیساتو د تړلو، د صنعتي کېدو، د انرژیو او سرچینو د کشفولو، په اقتصادي، سوداګریزو او پولي چارو کې د همکارۍ، د کولتوري تبادلې، د ایکلوژیکي چاپېریال د ساتنې، په سمندري چارو کې د همکارۍ پرمخبوونې، په همدې وخت کې د چین، روسیې او مغولستان، د اسیا او اروپا تر منځ د نوي ځمکني پل، د چین، منځنۍ اسیا او لوېدیځې اسیا، د چین او پاکستان، د بنګلادیش، چین، هند، میانمار، د چین او د جونګ نان ټاپووزمې ترمنځ شپږ اقتصادي دهلیزونه به تر یاد وړاندیز لاندې اباد شي. د اوسپنیزو لارو، سړکونو، د اوبو لارو، هوایي لارو، د پایپ لاینونو او د انفرمیشنونو د لارو په شمول، د تګ راتګ یوه هر اړخیزه شبکه به جوړه شي.

افغانستان د اسیا او اروپا په ځمکني مرکز کې پروت دی او د دغه هېواد په هکله د یو کمربند او یوې لارې وړاندیز د افغانستان خلکو ته نه یوازې پراخې لارې برابروي، بلکې ځمکنیو هېوادونو او د دغو هېوادونو د پرمختیا مسئلو ته د نړیوالې ټولنې پاملرنې او پانګونې هم رسېږي. افغانستان دې په پوره توګه د خپل جغرافیایي تفوق، انرژیو، د نفوس جوړښت، د خلکو د اړیکو او د نړیوالو پاملرنو له مخې خپل رول ولوبوي، چې دا یې شته نیمګړتیاوې کمولی شي. د یو کمربند او یوې لارې په ابادۍ کې دې مهم رول ولوبوي او ګټې دې تر لاسه کړي. دغه وړاندیز د افغانستان د اقتصادي خپلواکۍ او د ډېر چټک پرمختګ ستراتیژۍ لپاره هم لار هواره کړې ده.

افغانستان ډېر مخکې د یو کمربند او یوې لارې له وړاندیز څخه ملاتړ کړی او له چین سره یې د یو کمربند او یوې لارې د ابادۍ یاداښت لاسلیک کړ او د یو کمربند او یوې لارې تر وړاندیز لاندې د امنیتي چارو د ساتلو لپاره یې له چین سره اړوند همکاریز میکانېزم جوړ کړی دی. چین تل د یو کمربند او یوې لارې په باره کې د افغانستان د مشرانو، حکومتي ادارو او بېلابېلو ټولنو د ګډون ستاینه کوي او ورته په درنه سترګه ګوري او افغانستان ته د یو کمربند او یوې لارې د ابادۍ او د دغه پلان د عملي کېدو د لاسته راوړنو په ترڅ کې د مهم ملګري په توګه ګوري.

افغانستان د یو کمربند او یوې لارې له وړاندیز څخه ګټې اخیستې دي. د تېر کال له نومبر راهیسې د دواړو هېوادونو تر منځ د تړون له مخې، له افغانستان څخه د شاو خوا ۱۲۵۰ ټنو د ۱۴ میلیونو امریکایي ډالرو په اندازه جلغوزي چین ته وارد شوي چې د افغانستان د جلغوزیو خاوندان او سوداګر ډېر خوشحاله دي او د چین مشتریان هم د افغانستان خوندور جلغوزي خوړلی شي. دا د دواړو هېوادونو لپاره ګډې ګټې لري. د یو کمربند او یوې لارې وړاندیز تر هڅونې لاندې په افغانستان کې د امنیتي حالاتو د ترینګلتیاوو او لویو ستونزو په شمول، د چین او افغانستان ترمنځ سوداګریز حجم هر کال یو میلیارد امریکایي ډالرو ته رسېږي، د دواړو هېوادونو ترمنځ، د الوتکو مستقیماً الوتنې او اورګاډي په ثابته توګه کار کوي، د اقتصاد ځینې نوې همکاریزې پروژې روانې دي، دا دومره اسانه کار نه دی.

چینایان او افغان دوستان دا متل کوي چې له یو لاس نه ټک نه خېژي. د یو کمربند او یوې لارې پلان د عملي کېدو په پیل کې لاسته راوړنې د چین او افغانستان ګډو کوښښونو ته اړتیا لري، په دې برخه کې دې په چین کې د افغانستان د سوداګرو او د سوداګرۍ ټولنې خپل رول ولوبوي، چین ته د افغانستان ځانګړي تولیدات دې ور وپېژني، په افغانستان کې د چینایي ژبې له زده کړې څخه دې ملاتړ وشي او د چین او افغانستان تر منځ په اقتصادي او سوداګریزې همکارۍ کې پل جوړوونکي دې وروزل شي. څه چې کري هغه به رېبي. که افغانستان په جدي توګه په دغه پلان کې برخمن وي او کار وکړي، نو هرومرو به لاسته راوړنې خپلې کړي.

په چین کې یوه اصطلاح شته چې وایي: د یو لاس دواړه مخونه غوښه لري. د یو کمربند او یوې لارې په ابادۍ کې چین ټولو برخوالو هېوادونو ته په مساوي او درنه سترګه ګوري. هر هېواد په دغه پلان کې د یو ارکیسترا د یوه غړي په شان خپل رول لري، البته د یو کمربند او یوې لارې په پلان کې د پروژو ډیزاین او ابادي باید زیاتې سرچینې ولري، د بازارونو د اصولو مراعات باید وشي او بېلابېلو خطرونو ته باید پاملرنه وشي. تصدۍ د یو کمربند او یوې لارې د ابادۍ عمده قوې دي او دوی د خپلو ګټو لپاره پروژې ټاکي او په بېلابېلو هېوادونو کې د ګټو لپاره پانګونې کوي. که په افغانستان کې امنیتي حالات ښه شي، بنسټیز تاسیسات پکې جوړ شي، د سوداګرۍ چاپېریال کې ښه والی راشي، باور لرم چې د چین په شمول ډېر زیات هېوادونه به په دغه هېواد کې پانګونې وکړي، نو اوس د پانګوالو لپاره تر ټولو لویه ننګونه امنیت دی.

د یو کمربند او یوې لارې پلان د بېلابېلو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکارۍ یو وړاندیز دی او د جیوپولټیکس سیاست امنیتي تګلاره نه ده، د نوي شکل د مارشالۍ پلان هم نه دی، له چا سره د سیالۍ او مقابلې نظریې نه لري او د چا د مالیې او امنیت دنده به هم نه زیانمنېږي. چین د دغه پلان وړاندې کوونکی او هڅونکی دی، خو د انحصار دریځ نه لټوي او پر نورو یې په زور هم نه مني، خو له بېلابېلو هېوادونو سره ستراتېژیکې اړیکې جوړوي، د نور تګ راتګ او سیمه ییزې همکارۍ د لا پراختیا لپاره د نورو د وړاندیزونو هرکلی کوي او هر هېواد په جلا جلا توګه خپل کارونه تر سره کوي او په خپلو کې همکارۍ کوي. چین تل دا دریځ غوره کوي چې افغانستان باید د بېلابېلو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ خلیج وګرځي، خو باید د بېلابېلو لویو هېوادونو ترمنځ د سیالۍ صحنه ونه اوسي.

ګاونډی په خپله نه شي ټاکل کېدای او د ګاونډیو هېوادونو ترمنځ دوستي ډېره ارزښتناکه ده. چین په صمیمي ډول هیله لري چې افغانستان او پاکستان یو پر بل ټینګ باور وکړي او دوه اړخیزې اړیکې ښې کړي. د چین، افغانستان او پاکستان د خارجه وزیرانو ترمنځ څه موده مخکې خبرې اترې وشوې چې پکې د یو کمربند او یوې لارې پر ګډې ابادۍ ټینګار شوی او د افغانستان او پاکستان اړیکو او د افغانستان، پاکستان او سیمه ییزو هېوادونو ترمنځ د تګ راتګ لپاره ګټورې دي. افغانستان د چین، منځنۍ او لوېدیځې اسیا د اقتصادي دهلیز او د چین او پاکستان د اقتصادي دهلیز ترمنځ پروت دی، له شمالي او جنوبي ګاونډیو هېوادونو سره یې اړیکې ښې دي چې له امله به یې سوداګرۍ په لا ښه سالمه توګه روانې وي. د یو کمربند او یوې لارې په ابادۍ کې به د افغانستان مقام لا مهم وي او د دغه هېواد جغرافیایي لوړاوی او د سیمه ییزو ارزښتونو په ځنځیر کې به یې مقام لا لوړ وي.

نن ورځ د یو کمربند او یوې لارې ابادي د چټک اورګاډي په شان حرکت کوي او دا د اوښانو د سفر په شان نه ده. بېلابېلې پروژې په عین وخت کې پرمخ وړل کېږي او د دې لارې په اوږدو کې د پرتو هېوادونو د خلکو ژوند هم مخ پر بدلېدو دی. رییس ماو څه دونګ په یو شعر کې داسې ویلي چې لس زره کلونه ډېر وخت دی، خو باید هره ورځ کوښښ وشي. هیله لرو چې موږ په افغانستان کې د سولې او جوړجاړي فرصتونه رامنځته کړو او په ګډه د یو کمربند او یوې لارې ابادي پرمخ یوسو چې د افغانستان خلک ژر د سولې او پرمختیا د لمر په وړانګو کې ژوند وکړي.

# ولسمشر غني: د سولې په برخه کې د داوود خان او ډاکټر نجیب الله تېروتنې نه تکراروو



ولسمشر غني د سولې د هڅو په لړ کې پرون یو ویډیویي پیغام خپور کړ. نوموړي په خپلو خبرو کې وویل چې دوی د سولې لپاره کار کوي، خو د سولې په برخه کې به د تدبیر له مخې گامونه اوچتوي، ځکه نه غواړي په دې توگه د ډاکټر نجیب الله او داوود خان تېروتنې تکرار کړي. هغه وویل چې سوله د هر افغان ارمان ده او افغان حکومت د دغه هیلې پوره کولو ته ژمن دی.

محمد اشرف غني په خپلو پرونیو خبرو کې د افغانستان سوله د ټولې سیمې لپاره مهمه و بلله او په خبره یې د سولې له هڅو سره په سیمه کې روان سیاستونه مستقیمه اړیکه لري. هغه ادعا کړې چې په سیمه کې په ټولو روانو سیاسي لوبو او حالاتو خبر دی، نو له همدې امله سولې ته محتاط هیله من دی او په دې برخه کې هر گام په دقت او تدبیر اخلي. هغه زیاته کړه، «موږ نه غواړو د ډاکټر نجیب الله او سردار داوود خان تېروتنې تکرار کړو. دوی په سیمه کې له روانو حالاتو سم درک نه درلود، له همدې امله یې د سولې په برخه کې عجولانه گامونه اوچت کړل. زه په سیمه کې په روان وضعیت او تحولاتو خبر یم. هر څه راته معلوم دي، نو له همدې امله غواړم د سولې په برخه کې له احتیاط او پوره تدبیره کار واخلم.»

ولسمشر غني په خپلو پرونیو خبرو کې د لومړي ځل لپاره په هېواد کې د بهرنیو ځواکونو هوایي بریدونه هم په ځنگزنه توگه وغندل. د ده په خبره، هېڅ افغان نه غواړي چې د سنگین په څېر پېښې تکرار شي او ماشومان یې د پردۍ جگړې لپاره ووژل شي. هغه پر طالبانو هم غږ وکړ چې دغه جگړې ته د پای ټکی کېږدي. د ولسمشر غني په خبره، طالبان د پردیو د گټو لپاره پر جگړه بوخت دي، نو له همدې امله له دغه ډلې غواړي چې جگړه پرېږدي او د سولې لار خپله کړي.


هغه د خپلو خبرو په دوام د بهرنیو ځواکونو وتلو ته هم اشاره وکړه. ولسمشر غني وویل، بهرني ځواکونه د یوې هوکړې له مخې په هېواد کې حضور لري، نو له همدې امله به دوی د یوه منظم پلان پر بنسټ له افغان خاورې وځي. غني زیاته کړه: «هېڅ افغان نه غواړي چې بهرني ځواکونه د اوږدې مودې لپاره په افغانستان کې وي. خو دا چې دوی د یوه قرارداد له مخې دلته حضور لري، نو ځکه به د یوه منظم پلان له مخې له افغانستانه وځي او دا خاوره به پرېږدي.»

افغان ولسمشر دا ادعا هم وکړه، چې د سولې لپاره د امریکا له لوري د پیل شوو هڅو اصلي طرحه د افغان حکومت ده. د ده په خبره، امریکا د افغان حکومت د پلان له مخې یوازې د دې هڅه کوي چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو زمینه برابره کړي. ولسمشر زیاته کړه چې اوربند، د ترهگرو د ملاتړو منزوي کول او د ترهگرۍ پر ضد د نړیوالو گامونو اوچتول هغه طرحې دي چې د ملي یووالي حکومت جوړې کړې او له امریکا سره یې شریکې کړې دي.

ولسمشر بیا هم ټینگار وکړ چې افغان حکومت او ټول افغانان با عزته سوله غواړي او دوی هم د تدبیر او پلان له مخې غواړي چې عزتمنه سوله راشي او په دې توگه د هېواد ملي گټې تظمین شي. هغه د افغان ځواکونو زړورتیا او لاس ته راوړنې هم وستایلې او په خبره یې د دوی د قربانیو له امله به افغانان سولې او دایمي ثبات ته رسېږي.

ولسمشر داسې مهال یادې څرگندونې وکړې چې نړیوالې رسنۍ او د مسایلو څارونکي افغان حکومت د سولې په خبرو کې منزوي بولي. د دوی په خبره، امریکا مخامخ له طالبانو سره خبرې کوي چې د همدې خبرو په لړ کې افغان حکومت په حاشیه کې ساتل شوی دی. افغان حکومت بیا وایي چې دوی په ټولو بحثونو او خبرو کې په جریان کې دي او هر څه له دوی سره په مشوره مخ ته روان دي.

## خلیلزاد: له طالبانو سره د موقت حکومت پر سر هېڅ بحث نه دی شوی



د افغان سولې لپاره د امریکا متحده ایالتونو ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي، په قطر کې له طالبانو سره په افغانستان کې د موقت حکومت د رامنځته کېدو په تړاو هېڅ خبرې نه دي شوې.

ولسمشرۍ ماڼۍ په خپره کړې اعلامیه کې ویلي چې خلیلزاد وړمه شپه د ولسمشر غني په گډون له نورو افغان چارواکو سره د قطر د وروستیو غونډو د جزیاتو د شریکولو پرمهال ویلي چې د موقت حکومت په اړه بحث د ده له صلاحیتونو څخه نه دی، دی یوازې بین الافغاني مذاکراتو ته زمینه برابروي.

نوموړي ویلي: «د موقت حکومت موضوع په بشپړه توگه ناسمه ده او په دغو خبرو کې په هېڅ وجه نه ده مطرح شوې او دا زما په صلاحیت او مسوولیت کې نه راځي. زما د صلاحیت موضوع دا ده چې یوازې بین الافغاني مذاکراتو ته زمینه برابره کړم.» په اعلامیه کې د خلیلزاد له خولې ویل شوي چې له طالبانو سره یې د اوربند پر مسئله بحث کړی، خو تر اوسه پکې کوم پرمختگ نه دی شوی.

نوموړي ویلي چې امریکایي لوري په قطر کې له طالبانو سره په خبرو کې پر بین الافغاني مذاکراتو ټینگار کړی، خو دا چې طالبان به بین الافغاني مذاکراتو ته کېني او که نه؟ دی به د پاتې موضوعاتو د تعقیب لپاره بیا له طالبانو سره وگوري.

دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ ځینو کورنیو او بهرنیو رسنیو په قطر کې د امریکایي پلاوي او طالبانو ترمنځ د روانو خبرو په اړه ویلي وو چې دواړو لورو د موقت حکومت، له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو او ځینو نورو موضوعاتو په اړه موافقه کړې ده، خو خلیلزاد بیا دغه راپورونه رد کړي دي.

نوموړي همدارنگه زیاته کړې چې طالبانو د قطر په خبرو کې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو غوښتنه کړې، خو د نوموړي په خبره، تر اوسه په دې امریکا ورسره هېڅ ډول پرېکړې ته نه ده رسېدلې. هغه ویلي چې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په تړاو پرېکړه به پر ټاکلي وخت له افغان دولت سره په همغږۍ تر بحث لاندې نیول کېږي.

## پر ابتدایي پایلو د اعتراضونو دوام؛

## معترضین: په ټاکنو کې په پراخه کچه فساد شوی




د لوگر معترضو نوماندانو پرون په کابل کې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون مخې ته اعتراض وکړ.

دوی د ټاکنیزو شکایتونو پر کمېسیون تور پورې کړ، چې د ولسي جرگې په تېرو ټاکنو کې یې له ځینو نوماندانو پیسې اخیستې او په لوگر کې یې د ډېرو مرکزونو رایې په قصدي ډول باطلې اعلان کړې دي.

په ورته وخت کې د لوگر د ازرې ولسوالۍ اوسېدونکو د یوې غونډې پرمهال د ټاکنو له خپلواک کمېسیون څخه وغوښتل، څو د لوگر ولایت ازرې ولسوالۍ باطلو شوو رایو په تړاو خپله پرېکړه بیرته واخلي.

د لوگر معترضو نوماندانو چې په کابل کې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون مخې ته اعتراض کړی و، ویلي چې شکایتونو کمېسیون په لوگر کې په قصدي ډول د ډېرو مرکزونو د رایو د ابطال پرېکړه کړې ده.

دوی ویلي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ولسي جرگې په تېرو ټاکنو کې عدالت نه دی تامین شوی او تر هغو به خپلو لاریونونو ته دوام ورکړي چې غوښتنې یې نه وي منل شوې.

په ورته مهال د لوگر په ازرې ولسوالۍ کې هم د یادې ولسوالۍ ډېرو اوسېدونکو د ټاکنیزو کمېسیونونو له لوري د رایو د ابطال پرېکړې په غبرگون کې لاریون کړی او له حکومته یې غوښتي چې د بایومېټریک رایو ابطال پرېکړه بېرته واخلي.

تر دې وړاندې د لوگر د شکایتونو کمېسیون د دغه ولایت د اوسېدونکو د مخکنیو اعتراضونو په تړاو ویلي وو چې د ټاکنو کمېسیون پرېکړه ورته د منلو نه ده.

## اروپایي ټولنې ته د مادورو خبرداری؛

# هېڅوک نه شي کولای چې موږ ته ضرب الاجل وټاکي




د وینزویلا جمهور رییس نیکولاس مادورو د اروپایي ټولنې ضرب الاجل چې باید په اتو ورځو کې دې په دغه هېواد کې ولسمشریزې ټاکنې وشي، رد کړی دی. مادورو له سي این این ترک ټلوېزیون سره په مرکه کې ویلي: «هېڅوک نه شي کولای چې موږ ته ضرب الاجل وټاکي. متاسفانه اروپا یو وار بیا له وینزویلا سره یوه لویه تېروتنه کوي. داسې ښکاري چې د خپلواکۍ لپاره زموږ ۲۰۰ کلنه جگړه هغوی ته هېڅ معنی نه لري. اروپا ډېر بېځایه، بې ثباته او غیر واقعي دریځ خپل کړی دی او باید خپل ضرب الاجل بېرته واخلي.»

دا په داسې حال کې ده چې مادورو له ۲۰۱۳ ز کال را وروسته، د وینزویلا ولسمشر دی او اوسمهال د مخالفینو له پراخو مظاهرو سره مخ دی.

فرانسې، جرمني، برېټانیا او اسپانیې د شنبې پر ورځ نوموړي ته اته ورځې وخت ورکړ، څو د ازادو او عادلانه ټاکنو نېټه اعلان کړي، که نه دوی به د خوان گوایدو حکومت په رسمیت وپېژني.

د اروپایي ټولنې د بهرني سیاست مشرې فدریکا موگېریني هم په یوه جلا بیان کې گواښ کړی چې که په وینزویلا کې په څو راتلونکو ورځو کې د ټاکنو د ترسره کېدو لپاره اقدام ونه شي، اروپایي ټولنه به په جمعي توگه گوایدو په رسمیت وپېژني.

خوان گوایدو د مخالفینو او ملي اسامبلۍ مشر دی چې په دغه هېواد کې د روانو پراخو لاریونونو مشري کوي او ځان یې د وینزویلا موقت ولسمشر اعلان کړی دی. گوایدو دغه راز د اروپایي ټولنې له اقداماتو هرکلی کړی او ویلي یې دي: «لومړی کار چې غواړم وکړم هغه دا دی چې له اروپایي ټولنې د هغه اقدام ستاینه وکړم چې د وینزویلا په ملاتړ یې اخیستی. زموږ په هېواد کې د ډیموکراټیکو هڅو په ملاتړ یو کلک گام دی».

بلخوا د امریکا متحده ایالتونو خوان گوایدو د وینزویلا د جمهور رییس په توگه په رسمیت پېژندلی دی. د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو د شنبې په ورځ د ملگرو ملتونو د امنیت شورا په بېړنۍ غونډه کې له نورو هېوادونو هم غوښتي چې د دوی په څېر اقدام دې وکړي. تر امریکا وروسته کاناډا، اروپایي هېوادونو، اسرائیلو او د لاتینې امریکا اکثرو هېوادونو گوایدو په رسمیت وپېژانده.

خو د ملگرو ملتونو د امنیت شورا په دې بېړنۍ غونډه کې د وینزویلا د بهرنیو چارو وزیر جورج اریزا د اروپایي ټولنې ضرب الاجل رد کړ او ویې ویل چې وینزویلا چا ته اجازه نه ورکوي چې کومه پرېکړه یا امر پرې ومني.

هغه ویلي: «کاراکاس ښه دوستان لري او د دفاع لپاره ترې مرسته غواړو».

خو بلخوا ترکیې، روسیې او چین له نېکولاس مادورو خپل ملاتړ اعلان کړی دی.

په دې وروستیو کې داسې راپورونه خپاره شول چې روسیې په وینزویلا کې د لاریونوالو د گواښ په خاطر له نېکولاس مادورو سره د مرستې لپاره خپل خصوصي امنیتي قراردادیان ورلېږلي دي.

## د کتــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

- لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارټز
- ژباړن: میـراحمد یـاد

### څلورم څپرکی
### لوی فکر به څنګه کوو؟




مثلاً که تاسي يوې ډلې ته ووایئ چې: (په خواشینۍ سره باید درته ووایم چې ماتې مو وخوړه) څه فکر کوئ چې دا جمله به هغوی په خپل ذهن کې څنګه مجسموي؟ حتمن به هغوی د ماتې، نهیلۍ او بیوسۍ هغه تصویر ګوري، چې د ماتې کلیمه یې ورکوي. اوس که مثلاً د هغې خبرې اپوټه ووایئ چې: (ما یوه بله لاره پیدا کړې، انشاألله چې نتیجې ته به ورسېږو) په دې خبرې به هغوی بې له شکه د خوښۍ او چمتوالي احساس کوي.
که ووایئ چې: (له ستونزې سره مخ شو) د بل په ذهن کې د یوه سخت کار تصویر راوړئ چې ځوک یې کولو ته زړه نه ښه کوي، خو که ووایئ چې(سیالي مو پیل کړې)، نو د خلکو په ذهن کې به تفریح، زور ازمویلو او لا د ډېرو هلو ځلو انځور پیدا شي.
یا که چاته وایئ چې (ډېر مصرف مو وکړ) د هغوی ذهن ته دستي د مصرف شویو پیسو تصویر راځي، داسې پیسې چې ببرته نه راګرځي، دا ډېر بد تصور دی، خو که ورته ووایئ چې: (لویه پانګونه مو وکړه)، نو خلک د داسې یو کار تصور کوي چې ډېره ګټه به ولري او دا تصور به حتمن خوندور وي.
خبره دا ده چې لوی فکر په خپل او د نورو په ذهنونو کې د مثبت، خوشبینه او خوندور تصویر رامنځته کول دي. د لوی فکر لپاره باید داسې کلیمې او عبارات وکارول شي چې په ذهن کې لوی او مثبت تصویرونه راوړي.
لاندې جدول کې، ښي لاس ته هغه بېلګې راغلې چې په ذهن کې واړه او منفي فکرونه ایجادوي او چپ لاس ته بیا همدا حالت په لوی او مثبت فکر مطرح شوی دی.
د دې هرې بېلګې په لوستو سره، له ځانه پوښتنه وکړئ چې په ذهن کې مو څه تصویر راګرځي.

| هغه جملې چې واړه او منفي فکرونه رامنځته کوي: | هغه جملې چې لوی او مثبت فکرونه رامنځته کوي: |
|---|---|
| کیسه ختمه شوه، اوس هېڅ ګټه نه لري. | لا هم فرصت شته، بله لاره به ولټوو! |
| دا کار مې یو ځل کړی، ماتې مې پکې خوړلې، بیا به یې په عمر و نه کړم. | دا ځل مې ماتې وخوړه، خو څه خبره نه ده، بیا به یې وازمایم. |
| ما خپله هڅه وکړه، خو هېڅ شی ونه شو، مال نه خرڅېږي، خلک یې هېڅ نه خوښوي. | تراوسه مې مال نه دی خرڅ کړی، خو زه باوري یم چې ښه شی دی، هڅه به کوم چې په خلکو یې وپېرم. |
| بازار کې تقاضا کمه شوې، ۷۵٪ اړتیا یې پوره شوې ده، زما توکي لکه چې خرڅ نه شول. | ته وګوره! ۲۵٪ خلکو لا نه دي اخیستي، موږ باید کار پیل کړو، همدا یې ښه فرصت دی. |
| لږ مال یې اخیست، پربېږده یې! | لږ مال یې اخیست، خو هڅه به وکړو چې فرمایش یې ډېر شي. |
| زه ستاسې شرکت کې لوړ مقام ته پنځه کال صبر نشم کولای، زه پکې نه یم. | پنځه کاله به زر تېر شي، خو دې ته دې پام شته چې دېرش کاله به دې بیا ژوند ښه وي. |
| ټول بازار د سیال شرکت په لاس کې دی، زه پکې څنګه مال خرڅ کړم؟ | سیال قوي دی، خو بازار به ټول عمر د ده په لاس کې نه وي، موږ به لاس تر زنې نه کېنو، یوه لاره باید پیدا کړو چې بازار ترلاسه کړو. |
| هېڅوک سودا نه اخلي | دا مال اوس نه خرڅېږي، موږ څو ځله امتحان کړ، ځینې بدلونونه باید پکې راوړل شي. |
| لږ صبر به وکړو، بازار چې سوړ شو بیا به مالونه ارزانه واخلو | بازار ته به صبر نه کوو، همدا نن د پانګونې ښه وخت دی، موږ پر خپلې پانګونې حساب کوو، نه د بازار په سړښت. |
| د دې کار لپاره لا زما عمر کم دی | ځواني او زړښت خو باک نه کوي او نه دا معیار دی. |
| ګټه نه کوي، زه به یې درته ثابته کړم | ډېره ګټه کوي، پربېږده چې ثابته یې کړم. |
| تصویر: تور، نهیلی، غمګین او له ماتې سره ملګری | تصویر: روښانه، هیله من، بریالی، خوندور او د بري احساس لرونکی. |

دوام لري...

# الیف شافاک

حکمت ارین



د الیف شافاک ترکۍ لیکوالې اصلي نوم الف شفق دی، په ۱۹۷۱ ز کال په فرانسه کې زېږېدلې او هنري نوم یې بیا الیف بیلګین دی، د نوموړې کتابونه د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې د ډېرو پلورل شویو کتابونو په ډله کې راځي. د الیف پنځه لس کتابونه چاپ شوي چې له دې ډلې یې لس رومانونه دي. ځینې اثار یې د نړۍ ډېرو ژبو ته ژباړل شوي هم دي. د نوموړې د مور نوم اتای مان دی او دې خپل هنري نوم د هغې له نامه سره د خپل نوم برابرولو په موخه ځانته غوره کړی دی.
الیف یو کلنه وه چې مور او پلار یې په فرانسه کې له یو بل جلا شول او دا له خپلې مور سره استانبول ته راغله او د خپلې انا په کور کې لویه شوه. د انا په کور کې ژوند کول د دې په خبره، د دې د تفکر او باورونو په جوړولو کې خورا ډېره مرسته وکړه. نوموړې خپله وايي، د انا مذهبي او د مور عصري فکر یې پر ژوند خورا مثبت اغېز وکړ او د دې د شخصیت په لوړولو کې یې خورا ښه اغېزه درلوده.
په ورته وخت کې په استانبول کې د هغې ژوند هم د دې پر فکر ژور اغېز کړی. الیف د خپل ژوند په اړه وايي:
«کله مې چې په فرانسه کې مور او پلار له یو بل نه جلا شول، زما نه یادېږي. مور مې وايي، یو کلنه وې، خو وروسته هغه وخت چې بېرته ترکیې ته راغلو، زه مې د انا کره په استانبول کې اوسېدو، انا مې خورا عقیدتي ښځه وه او مور مې بیا مډرن فکر درلود. د دواړو فکرونو مې پر ژوند خورا ښه اغېز وکړ، زه داسې فکر کوم چې شخصیت مې د هغوی له برکته ښه متاثر شوی دی. په کور کې د دوی بحثونه زما لپاره خورا ګټور وو. دوی به تل پر داسې مسایلو بحث کاوه، چې زما د عقیدې په جوړولو کې یې خورا ډېر اهمیت درلود.»
استانبول ښار کې د نوموړې ژوند د هغې پر لیکوالۍ هم اغېز کړی دی، د نوموړې په ډېریو اثارو کې د استانبول ښار انځور د لمر غوندې روښانه دی، لامل یې دا خپله په استانبول کې د نوموړې ژوند او خوږې خاطرې بولي. الیف په دې اړه وايي:
«استانبول زما لپاره تر ټولو غوره ښار دی. دغه ښار کې ژوند کولو ماته مینه را زده کړه، په دغه ښار کې هر څه د نورو ځایونو په پرتله خواږه او ښه وو. ماشومتوب مې دغه ښار کې له خورا ښو خاطرو سره ملګری و، په داسې حال کې چې پلار مې نه درلود، خو انا مې د ټولو ځای ډکاوه.
ماشومتوب د هر چا لپاره تر ټولو غوره وخت وي، خو زما لپاره بیا هغه وختونه نه هېرېدونکي دي. په تېره بیا د ښوونځي وختونه، کله چې به زه ښوونځي ته تلم، انا به مې یوه زېړه مڼه او څو لېرې راکولې، د هغې مني خوند چې ما به په ښوونځي کې ترې لومړی کپ کاوه، تر اوسه مې له یاده نه وځي.»
د الیف مور له څو کلونو وروسته ډیپلوماټه شوه او الیف هم خپلې نورې زده کړې په عمان او د نوې ځوانۍ وختونه یې بیا په امریکا او انګلستان کې تېر کړل. په انګلستان کې ژوند کولو نوموړې دېته اړ کړه چې هسپانوي د ځان لپاره دویمه ژبه وټاکي او وروسته یې عربي او انګلیسي ژبو کې هم د زده کړې کورسونه واخیستل، څو پرې لیکل وکړای شي.
نوموړې دې ډېرو هېوادونو د فرهنګونو، ادابو او روسومو په اړه هم لیکنې کړې دي، چې ډېری خلک یې خوښوي. الیف یې لامل د نړۍ بېلابېلو هېوادونو ته سفرونه او هلته تر یوه حده ژوند کول بولي. دا وايي، د نړۍ له بېلابېلو فرهنګونو سره زما بلدتیا د دې سبب شوه، څو داسې اثار خلق کړم چې د ډېرو خلکو خوښ شي او خوند ترې واخلي.
د (پټ) په نامه د الیف شافاک لومړنی رومان په ۱۹۹۸ ز کال کې خپور شو چې د هغه کال د غوره کتاب جایزه یې هم واخیسته. د نوموړې همدغه کتاب په ترکیه کې هم د کال د غوره کتاب جایزه وګټله، چې د نوموړې شهرت یې خورا ډېر کړ. هغې له هغه وروسته په ۱۹۹۹ ز کال کې د (ښار ایینې) په نامه یو بل رومان هم ولیک او خپور یې کړ، چې له ترکیې سربېره په ایران او عمان کې هم وژباړل شو. الیف په ۲۰۰۰ ز کال کې د محرم په نامه یو بل ناول ډېره مشهوره کړه چې په همغه کال یې په ترکیه کې د ټول کال د ډېرو پلورل شویو کتابونو په سر کې ځای ونیو. د هغې یو بل رومان چې په ۲۰۰۲ ز کال کې یې چاپ کړ، له ترکیې سربېره په عمان، ایران، فرانسه او امریکا کې هم وژباړل شو او ډېر وپلورل شو.
نوموړې وروسته له هغه بندي شوه چې په ۲۰۰٦ ز کال کې یې د (استانبول حرامي) په نامه کتاب چاپ ته لاړ. نوموړې دغه کتاب کې د ترکانو او ارمنیانو له اړیکو پرده پورته کړې وه. د الیف دغه کتاب د دې لامل شو چې نوموړې څلور میاشتې بند تېر کړي.
نوموړې په دې جرم بندي شوه چې ویل کېدل، په دغه کتاب کې یې د ترکانو هویت او غرور ته سپکاوی کړی دی. خو له بند وروسته یې محکمې د بند د دوام لپاره پوره شواهد نه لرل.
شافاک واده کړی دی او دوه اولادونه لري، نوموړې په زندان کې وه چې لومړنی اولاد یې پر ګېډه و. له بنده تر ازادېدو وروسته یې لومړنی اولاد دنیا ته راوړ چې له فزیکي اړخه یې خورا کمزورې کړه. نوموړې ترکۍ لیکوالې په خپل څلورم کتاب (تور زمري) کې د خپل ژوند په اړه هم لیکلي دي.
د الیف شافاک د (تور زمري) په نوم کتاب چې په لومړي ځل په ۲۰۱۰ ز کال کې چاپ شو، له څلورو- پنځو ورځو وروسته ټول وپلورل شو او د نوموړې د شهکار اثر نوم یې خپل کړ. په ترکیه کې د دغه کتاب ډېر پلور نوموړې د نړۍ په کچه هم ډېره مشهوره کړه.
د نوموړې یو بل کتاب چې د (مینې څلوېښت اصول) نومېږي، پر ایران، ترکیه، عمان او نورو هېوادونو سربېره پښتو ته تکړه ژباړن میراحمد یاد هم ژباړلی دی.
د نوموړې دا کتاب په ایران کې د کال په تر ټولو ډېرو پلورل شویو کتابونو کې راغلی دی. په فارسي کې د نوموړې تر ټولو ډېر پلورل شوي کتابونه دا دي: آیینه های شهر، شپش پالاس، من و استادم، اسکندر، شمس پاره او یوڅو نور، خو یاد شوي کتابونه په ایران کې د نوموړې شهکار رومانونه هم بلل شوي دي.
شافاک په دې وروستیو کې پر افغانستان سربېره په ایران کې هم ډېر شهرت پیدا کړی دی او وروستیو چاپ شویو رومانونو یې په ایران کې خورا ډېر لوستونکي پیدا کړي دي. د نوموړې د (ملت عشق) په نامه کتاب په ایران کې په تېرو دوو کلونو کې تر ټولو ډېر پلورل شوی کتاب دی. کولی شو ووایو چې شافاک نه یوازې په ترکیه، ایران او افغانستان کې مینه وال لري، بلکې په انګلستان او فرانسه کې هم ډېر محبوبیت لري.
دا چې دې ولې دومره شهرت پیدا کړ دوه لاملونه دي:
لومړی دا چې هغې یو کتاب هم د ځانګړې طبقې لپاره نه دی لیکلی، بلکې په نړۍ کې یې د ډېرو خلکو لپاره لیکلي دي. په دې اړه دا خپله وايي:
«ما هېڅ کتاب هم د دې لپاره نه دی لیکلی چې څوک یې لولي او څه ډول خلک یې باید ولولي، خو هڅه مې دا کړې چې ټولو کتابونو کې مې داسې موارد را واخلم چې د ټولو لپاره مهم وي، ځکه خو یوازې د ادبیاتو او قلم خاوندانو لپاره جالب نه دي. بل لامل دا دی چې بې تکلفه مې لیکلي دي او هېڅ داسې کلمات مې پکې نه دي راوړي چې خلک ورسره ستونزو کې مخ شي یا سم پرې پوه نه شي. په ټولو کتابونو کې مې هڅه کړې چې ساده الفاظ ولیکم او ډېر یې ونه پېچم.»
نوموړې په ټولو کتابونو کې هڅه کړې چې ساده الفاظ وکاروي او ټول اثار یې هغه که تاریخي، ټولنیز او هر ډول کتابونه دي، ټول یې د کیسې په ډول لیکلي دي.
د الیف د کتابونو د ډېر پلور بل لامل دا دی چې هغې بېلابېل موضوعات په ډېر ښه شکل د خلکو تر لاسونو رسولي دي.
شافاک لکه څنګه چې د مختلفو موضوعاتو په لیکلو کې کنجکاوه او زړوره ده، د ټولو هغو موضوعاتو په لیکلو کې هم زړوره ده چې دا غواړي ویې لیکي.
لیکوالان یې د بندي کېدو لامل هم همدا موضوع یادوي. دوی وايي، هغې له ارمنیانو سره د ترکانو ظلم بې له وېرې په خورا ښه شکل لیکلی دی، دا تاریخي روایت هغې په داسې شکل کیسه کړی چې که هر څومره ولوستل شي، هېڅ ستړې کوونکی نه دی.
فرانسوی لیکوال رادمیر د الیف شافاک په اړه وايي:
«کله مې چې د شافاک د بندي کېدو اوازه واورېده، پوه شوم چې هغه حتماً د خپلې زړورتیا قرباني شوې ده. ماښام و چې ټلوېزیون مې روښانه کړ، د الیف شافاک د بندي کېدو خبرې سخت خپه کړم. هغه زما له وړاندوېنې سره سم په هغه تور بندي شوې وه. د هغې د بندي کېدو لامل دقیقاً د هغې هغه کتاب و چې په همدې ورځو کې چاپ شوی و. د (استانبول ارمونی) نومې کتاب کې هغه ظلمونه لیکل شوي چې ترکانو له ارمنیانو سره کړي وو.»
هغې د نړۍ په کچه د ادبیاتو او دغه راز د ډېرو پلورل شویو کتابونو په برخه کې ډېرې معتبرې جایزې ګټلې دي.
شافاک اوس په لندن کې اوسېږي او وايي، د نړۍ د اوسني وضعیت په اړه اندېښمنه ده. نوموړې په نړۍ کې د روانو بې بندوباریو په اړه هم اندېښنه ښيي او وايي چې په ټوله نړۍ کې وضعیت په تېره بیا د بیان ازادي، د بشر حقونه، ډیموکراسي او ځینې نور موارد کلک په خطر کې دي چې باید د سمون لپاره یې په پوره جرئت ګام واخیستل شي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۲۵ |
| € | ۸۵,۶۰ |
| Rp. | ۵۳۵ |
| ₹ | ۱۰۶۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۸,۴۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 12:00 |
| کابل - دوبی | 20:45 |
| کابل - ډهلي | 10:30 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړني شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانۍ

# څنګه له حاسدو کسانو د خپلې بریا لپاره استفاده وکړو؟

**ژباړه: امان الله«حنیفي»**

کله چې د بریالي کس په نوم وپېژندل شوی، حتمن به تاسې له هغو حاسدو کسانو، مانا له هغو کسانو سره چې ستاسې بریا نه شي زغملی، مخ کېږی.
حاسد کسان یا ستاسې با ارزښته اوسېدل نه شي منلی یا ممکن ستاسې د بریا له رازونو سره حسد او کینه ولري.
حاسد کسان په ساده‌ګۍ له نورو سره خپل حسادت ښیي، په داسې حال کې چې موږ انسانان فطرتاً دا ښه نه ګڼو چې نور مو حسد کوونکي وبولي یا هغوی داسې ګومان وکړي چې پلانی حاسد دی، خو اصلي خبره دا ده چې په ټوله مانا له حاسدو کسانو لرې اوسېدل ناممکن دي، په تېره بیا هغه وخت چې تاسې د بریا پر لور روان یاست. نو له دې سره سره چې له هغوی په ټوله مانا لرې اوسېدل، ناممکن دي، هغوی ته وخت ورکړئ، څو له تاسې سره حسد وکړي او تاسې یې د حسد له اغېزو د خپلې بریا لپاره بیا استفاده وکړئ.
په همدې مقاله کې ځینو هغو مواردو ته اشاره کوو چې په واسطه یې تاسې له حاسدو کسان څخه د خپل موفقیت لپاره استفاده وکړی.

**۱ـ که هغوی له تاسې سره حسد کوي، پوه شی چې تاسې د ځان لپاره سمه لار ټاکلې ده**

له تاسې سره د نورو کسان حسد کول دا مانا لري چې تاسې د بریا لوړ پوړ ته رسېدلي یاست یا مو داسې لاره ټاکلې ده چې پر مټ یې ښو ځایونو ته رسېدلی شی. هغه وخت چې تاسې د بریا لار پرېږدی یا کومه سمه موخه ونه ټاکی، باوري اوسی چې هغه وخت به له تاسې سره هېڅوک حسد ونه کړي.
کله چې حاسد کسان له تاسې او ستاسې له کارونو سره حسد کوي، پوه شی چې هغوی ستاسې د بریا په راز پوه شوي دي.
د یو چا حسد په دې مانا واخلئ چې تاسې سم کارونه کوی او هغوی یې نه شي زغملی. نه دا چې تاسې د هغوی په مقابل کې په ورته اقدام لاس پورې کړئ.

**۲- د هغوی له اخلاقو او کړنو زده کړئ چې تاسې د نورو خلکو منونکې واوسئ**

د نورو له بدو او ناخوښو کړنو نه په زده کړې، تاسې کولای شی د خپلو ملګرو او هغو کسانو لپاره چې تاسې ورسره ناسته پاسته لری، یو ښه انسان واوسئ. د هغو کسانو په مقابل کې چې له نورو سره حسد کوي، تاسې د هغوی خلاف کړنه خپله کړئ، مانا دا چې تاسې له نورو سره حسد مه کوئ. که تاسې هم د هغوی په مقابل کې ورته عمل تکرار کړی، دا به نه یوازې ستاسې او هغه کس، بلکې د نورو لپاره هم یو بد د تقلید عمل وي چې له تاسې به یې زده کړی وي.
له دې وروسته، کله چې له هغو کسانو سره مخ کېږی چې له تاسې سره همفکره او هم نظره وي، د هغوی ملاتړ وکړئ او د هغوی لپاره یوه انګېزه شی، دا به نه یوازې ستاسې اړیکې له هغوی سره ټینګې کړي، بلکې معنوي روحیه به مو هم پیاوړې او نورو ته به یوه ښه الګو ګرځېدلي یاست.

**۳- د هغوی له نیوکو د خپلې ارزونې لپاه ګټه واخلئ**

ډېر وخت انتقادونه د حسد له مخې کېږي، کېدای شي ځینې وخت له همداسې نیوکو سره مخ شی. په داسې وخت کې باید نا راحته نه شی، بلکې هغه خبرې چې هغوی یې ستاسې په مقابل کې کوي، ښې واورئ. ځینې وخت نیوکې او انتقادونه له تاسې سره مرسته کوي چې پر یوه ښه کس بدل شی. مانا دا، کومې نیوکې چې هغوی یې پر تاسې کوي، هغوی د حسد له مخې د دې لپاره کوي، څو تاسې پرې کمزوري ښکاره کړي، خو تاسې د هغوی برعکس د خپلو نیمګړتیاوو د ډکولو لپاره هڅه وکړئ.

**۴- متواضع اوسئ**

له انتقادونو او نیوکو سره کېدای شي د ځان لپاره سخت، خو ممکنې او لاسته راوړونکې موخې وټاکی. په ژوند کې ډېرې داسې صحنې راځي چې یا به ورسره مقابله کوئ او یا به مو خپل کار سم سرته رسوی. کېدای شي تاسې له هغو کسانو په څو څو واره بریالي وی، کوم چې له تاسې سره حسد کوي. مانا دا چې تاسې باید متواضع اوسی، نه داسې چې مخکې له مخکې پر ځان د ډېر باور له امله د هر شي او ځان په اړه خپله پرېکړه ومنی. د هغوی د حسد په مقابل کې د هغوی د خبرې او پرېکړې په اړه فکر وکړی، که پر ځای وه، ګټه ترې واخلئ او که د حسد له مخې وه، شاته یې وغورځوئ.

**۵- له حاسدینو څخه د خپلو ستونزو د حل لپاره ګټه واخلئ**

له حاسدو کسانو سره اوسېدل په ټولو ستونزو سربېره دا ښه چانس هم په لاس درکوي، څو مو خپلې ستونزې د اغېزمنو او هغو لار چارو په واسطه حل کړی، کومې مو چې تر اوسه نه دي کارولې.
کېدای شي ځینې وخت یوازې همدا بس وي چې د هغوی په مقابل کې کوم عکس العمل او خبره ونه کړی، خو پام مو وي چې له هرڅل نیوکې سره باید تاسې همدا عمل تکرار نه کړئ، بلکې د بل ځل نیوکې په مقابل کې باید ستاسې برخورد له لومړي سره یو څه توپیر ولري.

**٦- خپله غوسه مو کنټرول کړئ**

د غوسې کنټرول سخت کار دی. کېدای شي ځینې کسان داسې یو کار وکړي چې تاسې په څو دلایلو په غوسه کړي، خو د داسې یو کار په وړاندې دا یاد ساتئ چې خپل عکس العمل لږ په سړه سینه وښیئ.
له ټولو هغو بدو او منفي کلماتو او خبرو چې یو څوک یې تاسې ته وایي، د ځان په ګټه استفاده وکړئ. مانا دا چې یا د هغوی په مقابل کې ژر عکس العمل مه ښیئ او یا هم لږ په سړه سینه او ارامه هغوی ته ځواب ووایی.
که په داسې یوه صحنه کې مو خپله غوسه کنټرول کړه، پوه شی چې تاسې پر نفس او هرڅه کنټرول ترلاسه کولای شی.

**۷- د حاسدو کسانو منفي اغېزې چې پر تاسې یې کوي، بابېزه وګڼئ**

په ژوند کې حتمن له حاسدو او منفي کسانو سره مخ کېږی. موږ نه شو کولای ټول خلک د ځان دوستان کړو، نو په همدې اساس کولای شو له حاسدو کسانو د خپلو بریاوو او نیمګړتیاوو د لا ښه پېژندلو او بیا ځلي نه تکرار لپاره ګټه واخلو.
دا منل چې موږ نه شو کولای ټول له ځانه خوشحاله وساتو، دا فرصت په لاس راکوي چې پر خپلو هغو موخو تمرکز وکړو، کومې چې ډېر اهمیت لري.

**۸- له حاسدو کسانو د خپلې تجربې د پیاوړي کولو لپاره ګټه واخلئ**

ممکن د داسې کسانو له نیوکو سره مخ شی چې هغوی مو شخصیت او باورونو ته زیان ورسوي، خو له دې سره سره ځان د هغوی د نیوکو قرباني مه کوئ. دا چې تاسې د هغوی د توجه وړ ګرځېدلي یاست، پر همدې افتخار وکړئ، ځکه نابود او کم ارزښته شیان د سړي توجه نه جلبوي. که پوه شی چې څنګه یاست او څنګه مو زړه غواړي چې ژوند وکړی، هغه وخت کولای شی ازاد ژوند وکړی. دا ډول ژوند کول مو د خپلې خوښې تر بریاوو رسوي.

## امریکا: له افغانستانه د سرتېرو ایستلو ته ژمن یو

په داسې حال کې چې د امریکایي پلاوي او طالبانو ترمنځ د سولې په اړه خبرې تر بل هر وخت ګړندۍ شوې دي، یوه لوړپوړي امریکایي چارواکي رویټرز خبري اژانس ته ویلي چې امریکا له افغانستانه د خپلو سرتېرو ایستلو ته ژمنه ده.
دغه امریکایي چارواکي د نوم نه ښودو په شرط په کابل کې رویټرز ته ویلي، چې په قطر کې له طالبانو سره په خبرو کې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په برخه کې د پام وړ پر مختګ شوی دی.
سرچینې ویلي چې د اوربند او د ځواکونو د وتلو د مهالوېش په اړه لا نورو خبرو ته اړتیا شته. هغه دغه راز ویلي چې موږ په افغانستان کې د دایمي حضور په لټه کې نه یو.
دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ طالب استازو او امریکایي پلاوي د افغان سوله په اړه شپږ ورځې خبرې وکړې، چې دواړو لورو د خبرو تر پای ته رسېدو وروسته پر مهمو مسایلو په خبرو کې د پرمختګ خبر ورکړ.
د افغان سولې لپاره د امریکا متحده ایالتونو ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم ورمه شپه له ولسمشر غني سره د قطر غونډې د جزیاتو شریکولو پرمهال ویلي چې په قطر کې یې له طالبانو سره پر اوربند، له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو پر وتلو او له افغان حکومت سره د طالبانو پر مذاکراتو خبرې کړې دي.
دا په داسې حال کې ده چې د شنبې په ورځ د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو هم ویلي وو چې متحده ایالتونه افغان سولې او له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د ایستلو په برخه کې جدي اراده لري.
دغه امریکایي چارواکي زیاته کړې: «زموږ هدف په افغانستان کې د سولې راوستل دي او موږ غواړو چې زموږ راتلونکې ملګریتوب د سولې د تړون پر اساس شي».
دغه چارواکي له رویټرز سره په مرکه کې ویلي، موږ غواړو چې په افغانستان کې یو ښه میراث شا ته پرېږدو.
د دغه چارواکي په خبره، د ځواکونو وتل له اوربند پرته نه شي کېدای.
له دې سره جوخت، ولسمشر غني هم تېره ورځ د سولې په اړه ملت ته په وینا کې ویلي، سوله ژر غواړو، خو په تدبیر سره.
نوموړي زیاته کړې چې په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو حضور د یو ضرورت پر اساس دی چې پر دغه ضرورت تل غور کېږي، څو په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو شمېر د یو پلان له مخې صفر ته راټیټ شي.

## ټاکنو کمېسیون: شکایتونو کمېسیون دې څېړل شوي اسناد ژر تر ژره را واستوي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي، دې ته انتظار دي چې د شکایتونو د کمېسیون له لوري د څېړل شویو شکایتونو اسناد دوی ته ورسېږي، څو د ولسي جرګې وروستۍ پایلې اعلان کړي او دا پروسه پای ته ورسوي.
د دغه کمېسیون مرستیال ویاند ذبیح سادات ازادي راډیو ته ویلي چې د شکایتونو د کمېسیون له لوري د نورستان، کونړ، خوست، فاریاب، بدخشان او فراه ولایتونو څېړل شوي اسناد دوی ته سپارل شوي او په نږدې راتلونکي کې به د دغو ولایتونو وروستۍ پایلې اعلان کړي.
نوموړي ویلي: «تر دې دمه د شپږو نورو ولایتونو وروستي اسناد د انتخاباتي شکایتونو د کمېسیون له لوري موږ ته سپارل شوي او زموږ غوښتنه دا ده چې د کابل او نورو ولایتونو د پایلو وخت ته په کتو د نورو ولایتونو اسناد هم موږ ته را واستوي، ترڅو وروستۍ پایلې اعلان کړو او دا پروسه پای ته ورسوو».
دا په داسې حال کې ده چې تر دې دمه د دوولسو ولایتونو د ولسي جرګې د ټاکنو وروستۍ پایلې اعلان شوې دي.
له دې سره جوخت د ټاکنو د خپلواک کمېسیون له لوري د لومړنیو او وروستیو پایلو اعلان له غبرګونونو او شکایتونو سره مخ دی.
د کابل په ګډون په ځینو نورو ولایتونو کې د متعرضو نوماندانو په اعتراضونو کې د ټاکنو کمېسیون کمېشنران د پیسو په اخیستو او معاملو تورن شوي او ان په کابل کې یې د بیا ځلي ټاکنو غوښتنه کړې، هغه څه چې ټاکنو کمېسیون رد کړي دي.
په همدې حال کې د شکایتونو کمېسیون ویلي چې د کابل د ټاکنو په اړه ورته ډېر شکایتونه رسېدلي چې څېړنه به یې لږ تر لږه یوه میاشت وخت ونیسي. دغه کمېسیون همدا راز ویلي، د لومړنیو پایلو له اعلان وروسته د ټاکنو خپلواک کمېسیون د معترضو نوماندانو شکایتونه دوی ته نه دي سپارلي.
شکایتونو کمېسیون دا هم ویلي چې د کابل پایلې لا وروستۍ شوې نه دي او د شکایتونو له څېړلو وروسته به ولیدل شي چې په دې اړه څه پرېکړه کېږي.
له دې ټولو سره سره د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د ټاکنو په تړاو شکایتونو ته د رسېدنې خبره کوي او وایي چې د ولایتونو پایلې وروستۍ نه دي او ممکن په هغو کې بدلون راشي.
د دغه کمېسیون ویاند علي رضا روحاني ویلي: «تر اوسه د اتلسو ولایتونو وروستۍ پایلې موږ ته استول شوې او د اونۍ تر پایه د شپږو نورو ولایتونو پایلې هم استول کېږي او د اکثرو ولایتونو پایلې نهایي شوې، اما یوازې د کابل او څو نورو ولایتونو چې د هغوی لومړنۍ پایلې اعلان شوې هم وې، پاتې کېږي. نیوکې یوازې په کابل نه، بلکې په ټولو ولایتونو کې شوې او تر یوه حده په حقه هم دي، لېکن دلته زموږ بحث د قناعت نه دی، بلکې په قانونیت دی، تر څو حق حقدار ته ورسېږي.»

Maseer Daily
New Vision, New Journey



کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

سه شنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې نهمه | د ۲۰۱۹ د جنوري ۲۹مه | دویم کال |۳۲۶مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۲۰ | ۲۱ | ۱۰ | ۱۸ | ۱۵ |
| -٤ | ٥ | ۸ | ٦ | ٦ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰٥:٤۳ | لمر ختل ۰۷:۰۷ | ماسپښین ۱۲:۲٤ | مازیگر ۰٤:۰۲ | ماښام ۰٥:۳۹ | ماخوستن ۰۷:۰٥

## نړۍ




## اسرائیل: که حزب‌الله ډله له پاروونکو اقداماتو ډډه ونه کړي، پر وړاندې به يې ودرېږو



د اسرائیلو لومړي وزیر بنیامېن نتانیاهو د خپل پوځ له وژونکي قدرته د لبنان د حزب‌الله ډلې مشر حسن نصرالله ته خبرداری ورکړی دی.

نتانیاهو دا گواښ وروسته له هغه کړی دی چې د حزب‌الله شیعه ډلې مشر حسن نصرالله د اسرائیلو دولت ته په سوریه کې د بریدونو د دوام په اړه گواښونه وکړل.


نوموړي د شنبې په ورځ د لبنان له یوه ټلوېزیون سره په خبرو کې ویلي، سوریه او حزب‌الله هره شېبه چې وغواړي، د اسرائیلو له پاروونکي عمل سره مقابله کولای شي.

نوموړي په دې تړاو زیاته کړې: «غواړم د اسرائیلو صدراعظم ته دا پیغام ورکړم، هغه څه چې په سوریه کې یې ترسره کوئ؛ پکې احتیاط وکړئ، تېروتنه ونه کړئ او سیمې جنگ ته مه بیایئ».

د حزب‌الله ډلې د مشر له دغه خبرداري وروسته، د اسرائیلو لومړي وزیر بنیامېن نتانیاهو د خپلې کابینې تر ناستې مخکې ویلي چې که حزب‌الله له پاروونکو اقداماتو ډډه ونه کړي، د اسرائیلو د پوځ وژونکې قدرت به یې پر وړاندې ودرېږي.

د یادونې ده چې د اسرائیلو پوځ له ۲۰۱۳ ز کال را وروسته د هغو بریدونو پړه چې وایي، په سوریه کې یې د ایران او حزب‌الله ډیپوگانې او اهداف ویشتي، پر غاړه اخیستې ده.

## داعش په فیلیپین او نایجریا کې د وروستیو بریدونو مسوولیت منلی دی



د اسلامي دولت نومې ډلې یا داعش په فیلیپین او نایجریا کې د وروستیو بمي بریدونو مسوولیت منلی دی چې له امله یې لسگونه کسانه وژل شوي دي.

د داعش ډلې په دغو بریدونو کې چې یو یې د فیلیپین په جنوبي ټاپو جولو کې پر یوه کلیسا او بل یې په نایجریا کې د پوځ پر یوه اډه شوی، په لسگونو کسانو ته پکې مرگ ژوبله اوښتې.

داعش ډلې په یوه اعلامیه کې ادعا کړې چې دوو ځان وژونکو په جولو کې پر یوه کلیسا چې عبادت پکې روان و، په ځان پورې تړلو چاودېدونکو توکو ته چاودنه ورکړې ده. جولو ټاپو د فیلیپین د پلازمېنې مانیلا د جنوب په ۱۰۰۰ کیلومترۍ کې پرته ده او اکثریت اوسېدونکي یې کاتولیک عیسویان دي چې د افراطي وسله والو اصلي مرکز گڼل کېږي.

په دغو دوو چاودنو کې چې یوه په کلیسا او بله د موټرو په پارکېنگ کې شوې، لږ تر لږه ۲۰ کسان وژل شوي او تر ۸۰ زیات ټپیان دي.

په ورته وخت کې داعش ډلې ویلي چې د نایجریا د بورنو ایالت په لوگوماني کلي کې یې په یوه برید کې د دغه هېواد ۳۰ سرتېري وژلي دي، خو د نایجریا د پوځ یوه ویاند ویلي، دغه برید د سرتېرو له خوا په شا تمبول شوی او یوازې ۸ سرتېري برسېرن ټپیان شوي دي.

## نامزدان معترض ولسی جرگه یک بار دیگر خواستار ابطال آرای کابل شدند



شماری از نامزدان معترض، خواستار ابطال آرای حوزۀ کابل شده و برای بحث روی موضوع معاون دوم ریاست جمهوری و رؤسای کمیسیون های انتخاباتی را به مناظره دعوت کردند.

انتخابات ولسی جرگه در ۳۲ ولایت در ۲۸ و ۲۹ میزان و در ولایت کندهار در پنجم عقرب سال روان برگزار شد. کمیسیون با تاخیر سه ماهه، نتایج ابتدایی این انتخابات را اعلام کرد.

اتحاد کاندیدان انتخاباتی کابل، دیروز در یک نشست خبری در کابل، با پر تقلب خواندن انتخابات ولسی جرگه ۲۸ و ۲۹ میزان گفتند، کسانی که در انتخابات تقلب کرده اند، باید محاکمه شوند.

عبیدالله بارکزی نامزد انتخابات ولسی جرگه از ولایت کابل، با بیان اینکه در انتخابات ولسی جرگه عدالت تامین نشده و حقوق مردم زیر پا شده است، گفت که باید تمامی آرای کابل باطل اعلام شود.


موصوف، با انتقاد از رئیس جمهور غنی گفت که رئیس جمهور، همواره در مورد مبارزه با فساد تأکید می کند؛ اما اکنون چرا در برابر فساد، تقلب، بی عدالتی و جرایم انتخاباتی خاموش است.

مولوی عطاالله فیضانی یکی دیگر از نامزدان معترض، گفته است: «به دلیل افشای تقلب کاران، جعل، تزویر، جرایم انتخاباتی و رسیدن حق به حقدار، معاون رئیس جمهور و رؤسای کمیسیون های انتخاباتی را به مناظره دعوت می کنیم تا در برابر مردم پاسخ بدهند». ذبیح الله سادات معاون سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات، هفته گذشته در مورد ادعای نامزدان معترض به پژواک گفته بود که نامزدان معترض در صورتی که از تقلب و تخلف انتخاباتی اسناد و شواهد داشته باشند، می توانند آنرا با کمیسیون های انتخاباتی به خصوص کمیسیون شکایات شریک کنند.

او گرفتن رشوت از سوی کمیشنران کمیسیون مستقل انتخابات را برای پیروزی نامزدان مشخص رد نموده و گفته است که اگر نامزدان معترض در مورد نیز کدام اسناد داشته باشند، می توانند آن را با ارگانهای عدلی و قضایی شریک کنند تا کسانی که دست به چنین کار زده اند، مورد پیگرد قرار گیرند.

## ژوند

## د ژوند پر بې مانا اړخونو سترگې پټې کړئ!



هڅه وکړئ چې د ژوند پر بې مانا اړخونو سترگې پټې کړئ. کله مو چې دا ډول پوچ مسایل له خپل ذهنه لرې کړل، هغه وخت به د خپل ځان لپاره د تفریح زمینه برابره کړئ. ډېر به مو لیدلي وي، کله چې د لوبې یو ټیم لوبه بایلي، لوبغاړي یې څومره د غوسې او خپگان احساس کوي. دغه ډول که یې کله لوبه وگټله، نو خوښي یې بیا یو پر دوه کېږي.


تاسو هم دا ډول یاست، که مو یو ځل د دې کړنې خوند ولید، نو له خپلې دې بریا به بې کچې خوند واخلئ.

د ځان لپاره وخاندئ، د دې پر ځای چې پر ځان پورې وخاندئ:

په دې ډول شوخۍ سره کولای شئ چې خپل ځان وپېژنئ او پر دې پوه شئ چې له انسانانو سره خطا ملگرې ده.

د خوښې ور ټوکې مو واورئ: ډېر کسان له دې سره مینه لري چې ټوکې وکړي او یا له بل څخه غواړي چې ټوکې ورته واوروي. انټرنېټي ځانگړې پاڼې له ټوکو ډکې دي چې د عنوان له اړخه طبقه بندي شوې دي. ځینې یې بې مزې دي او ځینې نورې یې بیا ښې او خندوونکې دي. هغه وگورئ او خوند ترې واخلئ، وخاندئ او نورو ته یې هم وواياست.

## ښکلا او روغتیا له وزن سره تړلې دي



هغه کسان چې ډېر چاغ دي، که دوه نیمې کیلو هم خپل وزن کم کړي، له ورایه به یې په بدن کې توپیرونه ولیدل شي او له ظاهري ښکلا سره یې مرسته کوي. دوی چې له ډېر چاغوالي کړېږي، که لږ هم خپل وزن کم کړي، پر نفس به یې باور زیات او له خپلې روغتیا سره به یې مرسته کړې وي.

۱- د خوړو اندازه مو کنټرول کړئ

څومره چې ډېر خواړه خورئ، په هماغه اندازه مو په بدن کې انرژي تولیدېږي، نو د دې لپاره چې وزن مو کم کړی وي، د خوړو کچه مو ټاکلې اندازې ته را ښکته کړئ. هڅه وکړئ، څو د یو ورغوي په اندازه غوښه وخورئ، معنا دا چې را کمه یې کړئ. کله چې هوټل ته ځئ، کومه اندازه خواړه چې فرمایش ورکوئ، نمایي یې کور ته درسره راوړئ، هڅه وکړئ چې د خوړو نمایي برخه مو مېوه او سابه وي.

۲- ډېر غوړ خواړه مه خورئ

موږ او تاسې تر ډېره غوړ خواړه خورو، خو پام مو وي چې دغه څه د یوه دام په څېر دي. هغه کسان چې خوراکي توکي جوړوي، هڅه کوي د دې لپاره چې د خوړو خوند ښه کړي، له بورې او یو ډول اوړو څخه گټه اخلي. دغه مواد کولی شي ستاسو په بدن کې له اندازې زیاته انرژي تولید کړي چې د وزن د زیاتوالي لامل مو کېږي.